# د کورني ژوند

# سُنَّت او آداب

18-SEPTEMBER-2025



هفته وراه د سُنّتو ډکه اجتماع کښې کېدونکے

د سُنّتو ډک بيان

(for Islamic Brothers)

پهٔ 18 ستمبر، کال 2025ء (بمطابق: 24 ربيع الاول شريف، کال 1447ھ) د پاکستان پهٔ هفته وارو اجتماعاتو کښې کيدونکے بيان

# د کورني ژوند سُنَّت او آداب

په دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- ___ هره نيکي د برکت والا ده
- ___ د اللّٰه پاک اِنعام يافته بندګان
- ___ د کور عزت کوئ!
- ___ د کورني ژوند يو څو سُنَّت او آداب

پیشکش

اَلْمَدِیْنَۃُ الْعِلْمِیَۃ

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اِسلامي)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰه وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ اللّٰه

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ اللّٰه وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ اللّٰه

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے:

اِنَّ اللهَ تَعَالٰى لَيَنْظُرُ اِلٰى مَنْ يُّصَلِّيْ عَلَيَّ وَ مَنْ نَظَرَ اللهُ تَعَالٰى اِلَيْهِ لَا يُعَذِّبُهٗ اَبَدًا۔[1]

ترجمه: کوم کَس چې پهٔ ما باندې درود شريف لولي الله پاک هغهٔ ته د رحمت پهٔ نظر ګوري او چا ته چې الله پاک د رحمت نظر وفرمائي هغه له چرې هم عذاب نهٔ ورکوي۔

ذاتِ والا پہ بار بار دُرود — بار بار اور بے شُمار دُرود

رُوئے اَنور پہ نور بار سلام — زُلفِ اَطہر پہ مُشکبار دُرود

سر سے پا تک کروڑ بار سلام — اور سراپا پہ بے شُمار دُرود[2]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

پهٔ حديثِ پاک کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار پهٔ نيتونو دے۔[3]

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! پهٔ ښو ښو نيتونو د عمل ثواب زياتيږي۔

---

1...افضل الصلوات للنبهاني، صفحه:40۔

2...ذوقِ نعت، صفحه:124123ملتقطاً۔

3... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حديث:1۔

راځئ چې د بیان اوریدو نه مخکښې څهٔ ښهٔ ښهٔ نِیَّتونه وکړئ: مَثَلاً ❀ د الله پاک د رضا د پاره به ټول بیان اورم ❀ پهٔ اَدب به کښېنم ❀ ښهٔ پهٔ توجُّه به بیان اورم ❀ څهٔ چې واورم، د هغې به د یادولو، بخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## کله چې غیر مسلمو قرآنِ پاک واوریدو

❀ابو سفیان ❀ اَخنس بن شَرِیق ❀ ابو جهل ❀ او عمْرو بن وَهب د مکے مکرمې لوئي لوئي کافران وو، وروستو ❀ حضرت ابو سفیان ❀ او حضرت اَخنَس بن شَرِیق رَضِیَ اللہُ عَنۡهما اِسلام قبول کړو او د صحابیت درجې باندې فائز شو- د هجرت نه مخکښې واقعه ده، پهٔ هُغه وخت کښې دې حضراتو ایمان نهٔ وو راوړے-

یو ځل داسې وشو چې شپه وه، جنابِ ابو سفیان د خپل کور نه راوتلو، اراده یې وه چې مُحَمَّد (رسول الله یعنې اخري، محمد عربي صَلَّى اللہُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) به پهٔ کور کښې تِلاوت کوي، ځم او اورم یې- بل خوا اَخنس بن شَرِیق هم دا اراده وکړه، ابو جهل او عمْرو بن وَهب هم پهٔ دې نیت باندې راوتل، اوس دا څلور واړه کوم چې هُغه وخت ټول غیر مسلمه وو، دا څلور واړه د یو بل نه خبر نهٔ وو، ټول د یو بل نه پټیدل- نو د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللہُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کور مبارک ته رانزدې شو او څلور واړه پهٔ بیلو بیلو ځایونو کښې پټ کیناستل-

خوږ او اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللہُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ تیز اواز تِلاوت کولو-

الله! الله! لږ سوچ وکړئ! چې کلام د الله پاک وي، خُله د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللہُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وي---!! سُبۡحٰنَ الله! خومره زړهٔ راښکونکے، د سوز نه ډک او زړهٔ ته پریوتونکے تِلاوت به وي---!!

دا څلور واړه غیر مسلمه د دې تِلاوت د اوریدو د پاره کیناستل، د اللّٰه پاک پهٔ کلام او د رسولِ هاشمي، مُحَمَّد عربي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ژبې مبارکې پهٔ خوږو کښې داسې ډوب شول، داسې ډوب شول چې د ګیر چاپیره د حالاتو نه هم خبر نهٔ شو، تِلاوت یې اوریدو، تِلاوت یې اوریدو، شپه ختمه تیره شوه، هډو پته ورته اونهٔ لګیدله- سحر چې کله رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تِلاوت بَس کړو، بیا پهٔ هوش کښې راغلل چې اَوه---!!

**دا خو ټوله شپه تیره شوه-**

بیا څلور واړه پاڅیدل او د خپلو خپلو کورونو طرف ته روان شول! هُم پهٔ لاره کښې د څلورو واړو ملاقات وشو- ټول پهٔ دې باندې پوهه شو چې د دې زړهٔ راښکونکې تِلاوت اوریدو والا یواځې زهٔ نه ووم، باقي درې واړه هم موجود وو- نو د یو بل نه یې وعده واخستله چې بیا د پاره به د مُحَمَّد صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تِلاوت نهٔ اورو-

ورځ تیره شوه، بَله شپه شروع شوه، بیا پرې وخت نهٔ تیریدو، څلور واړه غلي غلي د خوږ محبوب صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د کور مبارک خوا له لاړل- خوږ محبوب صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نن هم پهٔ تیز اواز تِلاوت کولو- نن هم دا څلور واړه پټ کیناستل، د اللّٰه پاک د کلام د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ خُله مبارکه باندې پهٔ اوریدو کښې داسې ډوب شول چې نن بیا ټوله شپه تیره شوه، کله سحر شو، هډو پته ورته اونهٔ لګیده، بیا څلور واړه راپاڅیدل، کورونو ته لاړل، بیا یې پهٔ لار کښې د یو بل سره ملاقات وشو- نن یې هم د یو بل سره وعده وکړه چې بیا به نهٔ راځو-

دا ورځ هم تیره شوه- پهٔ بله شپه پرې بیا وخت نهٔ تیریدو- بیا څلور واړه غلي غلي ورسیدل- دریمه شپه هم د قرآنِ کریم پهٔ تِلاوت اوریدو کښې تیره شوه-

اَللّٰهُ اَکْبَر! دا تِلاوت چې کاڼو اوریدلے وے نو هم به وِیلي شوي وو خو افسوس---!! دا د غیر مسلمو زړونه وو، پهٔ هغې باندې تور والے دومره راخور شوے وو چې د لرې کیدو

يـې هدو نوم نهٔ اخستو- درې شپې يـې پرله پسې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خُلې مبارکې نه د الله پاک کلام اوريدو، چې څلورمه ورځ شوه نو اَخنس بن شَرِيق د کور نه راوتلو، د ابو سفيان خوا له لاړو، اوئې وئيل: اے ابو سفيانه---!! درې شپې دې تِلاوت واوريدو، د دې کلام په باره کښې خپله رائے ورکړه---!! **ابو سفيان د کلامِ مجيد تعريف وکړو-** بيا اَخنس بن شَرِيق د ابو جهل خوا له لاړو، اوئې وئيل: ابو جهله---!! ووايه! کوم کلام چې دې درې شپې پرله پسې واوريدو، د هغې په باره کښې ستا څهٔ رائے ده- ابو جهل بد بخته وو- د هغهٔ په زړهٔ باندې سختې پردې پرتې وې، اوئې وئيل: (د هغه کلام خبرې پريږده---!! معامله دا ده چې) مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عبدِ مُنَاف قبيلې نه دے- زهٔ د هغه کلمه نهٔ شم وئيلے-(1) په دې موقع باندې دا آيت مبارک نازل شو، الله پاک وفرمائيل: (2)

| | |
|---|---|
| وَ مِنْهُمْ مَّنْ يَّسْتَمِعُوْنَ اِلَيْكَ ؕ اَفَاَنْتَ تُسْمِعُ الصُّمَّ وَلَوْ كَانُوْا لَا يَعْقِلُوْنَ ﴿۴۲﴾ (پارہ:11، سورۂ یونس:42) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او د هغوئې نه بعضې هٰغه دي کوم چې ستا طرف ته غوږ ږدي، نو آيا تهٔ به کڼو ته واوروې؟ اګر که هغوئې نهٔ پوهيږي- |

يعنې په دې مشرکانو کښې بعضې داسې دي کوم چې د خپلو ظاهري غوږونو سره د اوريدو د پاره راتيتيږي او د اخري نبي، رسولِ هاشمي، مُحَمَّد عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه قرآنِ پاک اوري خو ستاسو سره د سخت بغض او دښمنۍ په وجه دا اوريدل هغوئې ته هيڅ فائده نهٔ رسوي-(3)

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د دې واقعې نه مونږ ته د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سيرت په باره کښې د زدکړې د پاره دوه خبرې ميلاؤ شوې:

---

1...سیرت ابن ہشام، قصة استماع قريش...الخ، جز:1، جلد:1، صفحه:202201ملخصاً۔

2...الروض الانف، الذین استمعوا الی قراءة النبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم، جلد:2، صفحه:95 مفهوماً۔

3...صراط الجنان، پارہ:11، سورۂ یونس، زیرِ آیت:42، جلد:4، صفحه:326325۔

## (1): دوئي نبي كريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دروغژن نۀ گڼي

وروﻣﺒے خو دې ته وګورئ چې زمونږ د خوږ نبي، اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سيرت څومره پاک دے، څومره ښائسته او څومره ښکلے دے چې د ابو جهل پۀ شان بد بخته کافِر، کوم چې د خپلې بد بختۍ، تور زړۀ او بُغض پۀ وجه باندې کلمه اګر که نۀ وئيله، خو بيا هم د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم طرف ته د مائل کيدو نه بغير پاتې نۀ شو، د شپې به يـې پټ پټ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مبارکې خُلې نه د **الله** پاک کلام اوريدو۔

| | |
|---|---|
| ہر آنکھ دیکھتی ہے تیرے ہی رُخ کا جلوہ | ہر کان سن رہا ہے پیارے کلام تیرا |
| تو نائبِ خدا ہے، محبوبِ کبریا ہے | ہے مُلک میں خدا کے جاری نظام تیرا |

د دې نه معلومه شوه چې د مکے مکرمې کافرانو کومو چې کلمه نۀ وئيله، دا د هغوئي د خپل باطِني خباثت پۀ وجه باندې وو، ګنې نو د خوږ محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ ذات مبارک کښې د نقص کرورمه حصه هم دوئي اونۀ مندله - **الله** پاک پۀ قرآنِ کريم کښې فرمائي:

لَا یُكَذِّبُوْنَكَ وَ لٰكِنَّ الظّٰلِمِیْنَ بِاٰیٰتِ اللّٰهِ یَجْحَدُوْنَ ﴿۳۳﴾ (پارہ:7، سورۂ انعام:33)

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: دوئي تا دروغژن نۀ ګڼي بلکې ظالمان د الله د آيتونو نه اِنکار کوي۔

معلومه شوه چې **الله** پاک خپل خوږ محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم داسې د کمال او بے مثاله پيدا کړے دے چې تر اوسه پورې يو غير مسلمه هم د اخري نبي، رسولِ هاشمي، مُحَمَّد عربي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ذات مبارک نه د اِنکار کولو همت نۀ شي کولے۔ که هغه اهلِ کتاب وي او که د مکے مکرمې مشرکان وي، ټولو ته د زړۀ نه معلومه وه چې د مُحَمَّد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه زيات رښتونے پۀ دُنيا کښې بَل هيڅ څوک نشته۔ آؤ! دوئي به کلمه نۀ وئيله ځکه چې د دوئي پۀ زړونو باندې مُهر لګيدلے وو۔

اعلیٰ حضرت رَحمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ ليکلي دي:

وہ کمالِ حُسنِ حُضُور ہے کہ گمانِ نقص جہاں نہیں
یہی پُھول خار سے دُور ہے، یہی شمع ہے کہ دُھواں نہیں (1)

وضاحت: يعنې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د حُسن او د جمال دا کمال دے چې په دې کښې څه قِسمه کمے کيدل خو لويه خبره ده، د کمي گمان هم پکښې نشته- د دويمې مصرعې مطلب دے چې عام طور د گلونو سره ازغي هم وي، د شمعې سره لوږے هم وي، خو خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د رسالت د باغ داسې گل دے د کوم سره چې هيڅ ازغے نشته او رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم داسې شمع ده د کومې سره چې هيڅ لوگے نشته-

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## (2): هره نيکي د برکت والا ده

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اوس په دې واقعه باندې د يو بل اړخ نه غور وکړئ! مخکښې لږ ماحول ته نظر وکړئ چې مکه مکرمه ده، د خپل سَکه خپلوانو نه واخله تر د پردو پورې ټول دښمنان دي، د اِسلام مخالفت کوي، د اِسلام او د مسلمانانو د ختمولو پوره کوششونه کوي، سخت ظلمونه پرې کولے شي، مَعَاذَالله! په خوږ آقا، مَدَني آقا، مکي آقا، محبوب آقا، زمونږ د بے وسو په داتا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پسې ټوقې کولے شي، اخري نبي، رسولِ هاشمي، مُحَمَّد عربي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته تکليفونه رسولے کيږي- د يو څو نه علاوه ټول د هغوئي دښمنان دي- د دې باوجود رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د شپې په تنهايۍ کښې د دې ټولو مشکلاتو نه د پام گرځولو سره، د خپل رَبّ په حضور کښې حاضريږي او په کور مبارک کښې ټوله شپه د قرآنِ کريم تِلاوت کوي-

1...حدائقِ بخشش، صفحه:107-

سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلے شان دے زما د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم --!! بل طرف ته دې مونږ خپل حال ته وګورو، مونږ که چرې تِلاوت کوو، نـمونځونه کوو، نیک کارونه کوو نو زمونږه مخالفت نهٔ کیږي، زمونږ خو تعریفونه کیږي، خلق مو نیک اِنسان ګڼي او عزت مو کوي، د دعاګانو درخواستونه راته کوي، د دې باوجود مونږ د نیکو طرف ته نهٔ ځو، مونږ تِلاوت نهٔ کوو، الله پاک دې زمونږ پهٔ حال باندې رحم وکړي- د اخلاص او د نیکو توفیق دې راکړي، یاد ساتئ نیکي الله پاک ته نزدې کول کوي، ❀زړهٔ صفا کوي، ❀د نیکۍ پهٔ برکت سره مشکلات لرې کیږي، ❀افتونه لرې کیږي، ❀نیکې پهٔ ځنکدن کښې اساني کوونکې، ❀قبر روښانه کوونکې او ❀جنَّت ته رسوونکې ده- ځکه مونږ له پکار دي چې مونږه نیک اعمال کوو ❀ نفلي روژې نیسو ❀ نـمونځونه کوو ❀ تِلاوت کوو ❀ د درودِ پاک کثرت کوو او نور چې هم کوم نیک اعمال دي، هغه اِختیار کړو، اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! ډیر برکتونه به مو نصیب شي-

امیرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الیاس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه پهٔ اسانۍ سره د نیکو ګټلو د پاره مونږ له یوه نسخه راکړې ده: **نیک اَعمال**- دا مختصر شان پهٔ جیب کښې راتلونکې رساله ده، د 72 نیک اعمال پهٔ نوم سره د مکتبة الـمدينه نه میلاؤیږي- دا حاصله کړئ! د ځان سره یې وساتئ! روزانه د دې خانې ډکوئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! نیک کار کول او پهٔ دې باندې به مو اِستقامت موندل نصیب شي-

| | |
|---|---|
| عمل کا ہو جذبہ عطا یاالٰہی! | گناہوں سے مجھ کو بچا یاالٰہی! |
| میں پانچوں نمازیں پڑھوں باجماعت | ہو توفیق ایسی عطا یاالٰہی! |
| دے شوقِ تِلاوت دے ذوقِ عبادت | رہوں باوُضو میں سدا یاالٰہی! |
| ہو اَخلاق اچّھا ہو کِردار سُتھرا | مجھے متّقی تُو بنا یاالٰہی! (1) |

1...وسائلِ بخشش، صفحه:104102 ملتقطاً-

# پهٔ کور کښې عبادت کوئ!

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** زمونږ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم معمول مبارک وو چې فرائِض، واجبات، د نيکۍ دعوت او نور عبادتونه وغيره کوم چې به يې پهٔ جومات کښې کول، هغه خو به يې هسې هم کول، د دې سره سره به اخري نبي، رسولِ هاشمي، مُحَمَّد عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ کور کښې هم ښه عبادت کول - د مسلمانانو د خوږې مور جانې حضرت عائشه صِدِّيقه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه پوښتنه وکړے شوه: د محبوبِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نفلونو پهٔ باره کښې څهٔ معمول وو؟ اوئې فرمائيل: رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د ماسپښين د نمونځ نه مخکښې 4 رکعتونه پهٔ کور کښې ادا کول، بيا به يې جومات ته تشريف وړلو، د ماسپښين نمونځ به يې د جَمعې سره ادا کولو، بيا به يې کور ته تشريف راوړلو او دوه رکعته به يې ادا کول- دغه شان به يې د ماښام نمونځ د جَمعې سره ادا کولو او بيا به يې کور ته تشريف راوړلو نو 2 رکعته به يې ادا کول، بيا به يې د ماسخوتن نمونځ پهٔ جومات کښې ادا کولو، د دې نه پس به بيا کور ته راتللو او دوه رکعته به يې ادا کول-[1]

صحابئ رسول دے: حضرت عبد الله بن عبَّاس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا- هغوئي د مسلمانانو د خوږې مور جانې حضرت ميمونه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا خوريے دے- هغوئي لا ھغه وخت ماشوم وو، فرمائي: يوه شپه زهٔ د خپلې [د مور د طرفه د] ترور حضرت ميمونه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا سره پهٔ کور کښې پاتې شوم، ھغه شپه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ماسخوتن نمونځ وکړو، بيا يې کور ته تشريف راوړلو، پهٔ کور کښې مکي مَدَني، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم 4 رکعته ادا کړل، بيا يې ارام وکړو، بيا پاڅيدو، [2] پهٔ مخ

1...مسلم، کتاب صلاة المسافرين و قصرها، باب جواز النافلة...الخ، صفحه:265، حديث:730-

2...بخاری، کتاب العلم، باب السمر في العلم، صفحه:104، حديث:117-

مبارک باندې يې لاس راښکلو، د سورۀ آلِ عمران اخري 10 آيتونه يې تِلاوت کړل، بيا يې اودس وکړو او نـمونځ يې شروع کړو، ما هم اودس وکړو او حاضر شوم او نـمونځ مې شروع کړو- رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم 2 رکعته وکړل، بيا يې 2، بيا يې 2، بيا يې 2، بيا يې 2، بيا يې 2، بيا يې 2 يعني ټول يې 12 رکعته وکړل، بيا يې وِتر وکړل، بيا يې ارام وکړو، بيا يې د سحر د اذان نه پس 2 رکعته(يعنې د سحر سُنَّت) ادا کړل، بيا يې د سحر د نـمونځ د پاره تشريف يوړلو- (1)

سُبْحٰنَ الله! دا د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ښکلے ښکلے انداز دے- مونږ له هم پکار دي چې دا سُنَّت هم ادا کړو-

نن په هر کور کښې پريشانۍ دي، معاشي تنګۍ دي، ورور د ورور دښمن دے، ❀ د کشر ترۀ، مشر ترۀ سره نۀ لګي، ❀ مور او پلار بيل پريشانه دي، ❀ اولاد په مور او پلار بيل بد ګمانه دي- دا تقريباً د هر کور مسئلې دي، چرته به يو څو کورونه وي کوم چې به د دې پريشانو نه بچ وي- د دې پريشانو اسان حل عرض کړم؟ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ادا په ادا کولو، په خپلو کورونو کښې د عبادت ماحول جوړ کړئ! ❀ چې د تهجدو وخت وي او په کور کښې خلق مصروف وي، څوک اودس کوي ❀ څوک مصله غوړوي ❀ څوک عمامه شريف په سر کوي ❀ چا د تهجدو نـمونځ شروع کړے وي ❀ څوک د تهجدو کولو نه فارغ شوے وي او تِلاوت کوي ❀ د چاپۀ لاسونو کښې تسبيح وي، د درودِ پاک کثرت کيږي ❀ دغه شان د نـمونځونو په وختونو کښې هم خلق مصروف وي ❀ څنګه چې اذان وشي، بس ټول کارونه پريږدي، ټول د نـمونځ په تيارۍ کښې مصروف شي ❀ په کور کښې د درودِ پاک لوستلو د پاره وخت مقرر وي، ټول کور والا په شريکه درودِ پاک لولي ❀ د تِلاوت وخت مقرر وي،

---

1 ...بخاری، کتاب الوضوء، باب قراءت القرآن...الخ، صفحه:121، حديث:183۔

تول پۀ شريکه تِلاوت کوي ❁ د نفلي روژو ورځې مقررې وي، که کيدے شي نو تول کور والا دې مثلاً د ګل او د زيارت د ورځې روژې نيسي- دغه شان پۀ کورونو کښې د عبادت والا، د نيکو والا ماحول جوړ کړئ! يقين وکړئ چې صرف دُنيا به مو نۀ بلکې اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم! قبر به مو هم روښانه شي، اخرت به مو هم ښۀ شي او الله پاک به هم راضي شي-

## د الله پاک اِنعام يافته بندګان

حضرت علي بن صالِح او حضرت حَسَن بن صالِح رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِما دواړه وروڼه وو، د دوئي کورنۍ د قرآنِ کريم د تِلاوت ډير شوق لرلو، د دوئي کره به روزانه يو ځل د قرآنِ کريم ختم کيدلو، انداز يې دا وو چې دې دواړو وروڼو او د دوئي مور بي بي به پۀ شريکه تِلاوت کولو، پۀ دريو کښې يوه حصه (يعني 10 سيپارې) د قرآنِ پاک تِلاوت به حضرت علي بن صالِح رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه کولو، يوه حصه به د دوئي ورور حضرت حَسَن بن صالح رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه تِلاوت کولو او د قرآنِ کريم پۀ دريو کښې يوه حصه تِلاوت به د دوئي مور بي بي کولو، داسې به روزانه د شپې يو ځل قرآنِ کريم پوره کيدلو- څۀ موده پس د دوئي مور بي بي وفات شوه، بيا يو ګس کم شوے وو، د دې باوجود دوئي د قرآنِ کريم تِلاوت کم نۀ کړو، دواړو وروڼو پۀ شريکه د مور بي بي کمے پوره کړو او دواړو وروڼو پۀ شريکه د نيم نيم قرآنِ کريم د تِلاوت کولو معمول جوړ کړو، داسې روزانه د ختم لړۍ روانه وه- بيا څۀ موده پس حضرت علي بن صالِح رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هم وفات شو، بيا حضرت حَسَن بن صالِح رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه يواځې پاتې شو خو د دوئي د تِلاوت د شوق نه قربان شم! دوئي پۀ تِلاوت کښې کمے اونۀ کړو، بيا بۀ حضرت حَسَن بن صالح رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پۀ يواځې د خپلې مور بي بي او د ورور د حصې تِلاوت هم کولو يعنې روزانه به يې يواځې د تول قرآنِ کريم ختم کولو-

د حضرت علي بن صالِح رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د يو نزدې ګس بيان دے چې پۀ کومه شپه

حضرت علي بن صالِح رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه وفات شو نو زهٔ د هغوئي سره ووم، هغوئي زما نه اوبهٔ وغوښتلې، ما هُغه وخت نـمونځ کولو، ځکه ما فوراً اوبهٔ پيش نهٔ کړے شوې، د نـمونځ نه چې فارغ شوم نو زر مې اوبهٔ حاضرې کړې نو حضرت علي بن صالِح رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه وفرمائيل: ما دا دے اوس اوبهٔ وڅښلې- زهٔ ډير حيران شوم چې زما نه علاوه دلته څوک هم نشته، بيا اوبهٔ چا پيش کړې؟ ما حضرت علي بن صالِح رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه ته د خپلې دې حيرانۍ ذِکر وکړو نو اوئې فرمائيل: د اللّٰه پاک پهٔ رحمت سره اوس اوس حضرت جبريلِ امين عَلَيۡهِ السَّلَام پهٔ ما اوبهٔ وڅښلې او اوئې فرمائيل: انبياء، صِدِّيقين، شهيدان او صالحان (يعني نيکان بندګان) هُغه خلق دي، پهٔ کومو باندې چې اللّٰه پاک اِنعام وفرمائيلو، (اے علي بن صالحه!) واوره---!! تهٔ، ستا ورور او ستاسو مور هم پهٔ هُغه نيکانو خلقو کښې شامل دي، پهٔ کومو چې د اللّٰه پاک اِنعام دے-

هُغه کَس وائي چې دا د حضرت علي بن صالِح رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه اخري خبرې وې، د دې سره د هغوئي روح پرواز وکړو- (1) د اللّٰه رَبُّ العزّت دې پهٔ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پهٔ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم -

تِلاوت کی توفیق دیدے الٰہی! | گناہوں کی ہو دُور دل سے سیاہی

اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! تاسو واوريدل! حضرت علي بن صَالِح رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه د هغوئي ورور او مور بي بي د قرآنِ کريم د تِلاوت څومره شوق لرلو، د هغوئي پهٔ کور کښې به روزانه د قرآنِ کريم ختم کيدلو، د هُغه خوش نصيبو د تِلاوت د شوق څومره ښکلے اِنعام نصيب شو، د حضرت علي بن صالِح رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه د وفات نه مخکښې، هُم پهٔ دُنيا کښې د فرښتو د سردار حضرت جبريلِ امين عَلَيۡهِ السَّلَام زيارت نصيب شو، حضرت جبريلِ امين عَلَيۡهِ السَّلَام پهٔ هغوئي باندې اوبهٔ وڅښلې او د اللّٰه پاک د نيک، انعام يافته بنده کيدو زيرے يې هم ورکړو-

---

1...صفة الصفوة، جزء:3، جلد:2، صفحه:100 و 101 بتغير قليل-

اوس غور وکړئ چې زمونږ پۀ کوروںو کښې داسې ماحول جوړ شي، څه---!! ❁ که مونږ د ټول قرآنِ کریم ختم روزانه نۀ شو کولے نو چې کم از کم یوه سیپاره خو روزانه تِلاوت کوو، که داسې شي نو سوچ وکړئ چې زمونږ د کورونو ماحول به څومره ښکلے او پاک شي- ❁ که زمونږه په کور کښې هره ورځ د سورۀ ملك تلاوت کیږي نو څومره ښکلے ماحول به جوړ شي، چې کله پلار، کله مور، کله ورور، کله خور، کله لور تلاوت کوي او نور ناست وي اوري یې- سُبْحٰنَ الله! ❁ که په کور کښې د درس سلسله وي نو دیني ماحول به جوړیږي-

## کور هم یو نعمت دے

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! زمونږ چې کوم کور دے، دا که هر څنګه هم دے، عالي شان دے او که چوپړۍ ده، کور د الله پاک نعمت دے- حضرت اَنَس بن مالِک رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي، زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې به کله بسترې له تشریف وړلو نو وئیل به یې:

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ الَّذِیْ أَطْعَمَنَا، وَسَقَانَا، وَکَفَانَا، وَآوَانَا فَکَمْ مِّمَّنْ لَّا کَافِيَ لَهُ، وَلَا مُؤْوِیَ

ترجمه: ټول تعریفونه الله پاک لره دي کوم چې پۀ مونږ وخوړله، وڅښله، زمونږ ضرورتونه یې پوره کړل او مونږ ته یې ځائے راعطا کړو- څومره داسې دي، د کومو سره چې بقدرِ کفایت اسباب نشته، څومره داسې دي د کومو چې څۀ کور نشته- (1)

څومره ښکلے انداز دے---!! د نن پۀ ترقي یافته دور کښې هم څومره خلق پۀ فټ پات باندې شپې تیروي، څومره داسې دي د کومو سره چې د سر پټولو ځائے نشته، زمونږه کور شته، که د کرایه هم دے نو راسره خو دے-

1...مسلم، کتاب الذکر والدعاء...الخ، باب التعوذ من شر...الخ، صفحه:1045، حدیث:2715۔

# پهٔ کورونو کښې سکون هم نعمت دے

اللّٰه پاک فرمائي:

وَ اللّٰهُ جَعَلَ لَكُمْ مِّنْۢ بُیُوْتِكُمْ سَكَنًا (پاره:14، سورۂ نحل:80) ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او اللّٰه ستاسو کورونه ستاسو د اوسیدلو ځایونه جوړ کړل-

دا هم د اللّٰه پاک خومره لوئي اِحسان دے چې هغه زمونږ کورونه زمونږ د پاره د سکون ذریعه جوړه کړه ❁ که صرف یو څو سیکنډه زلزله راشي نو زړهٔ درزیږي، اِنسان نا قراره کیږي، که اِنسان هر څومره خوشحاله وي، ټولې خوشحالیٔ یې ختمیږي، [خو د اللّٰه پاک شُکر دے چې] دا زمکه نهٔ رپیږي، زمونږ کورونه چې پهٔ کوم ځائے کښې وو، هم پهٔ هُغه ځائے کښې صحیح سلامت موجود دي، دا د سکون ذریعه ده ❁ سوچ وکړئ چې یو ځنګلي ځناور مثلاً ازمرے یا پړانګ وغیره محلې ته راشي نو ټوله محله څومره ویریږي، بهر وتل ګران شي، د ژوند څومره معاملې ودریږي- غور وکړئ چې دا ځنګلي ځناور پهٔ ځنګل کښې چا منع کړي دي؟ پهٔ زرګونو قِسمه ځناور، حشرات، ماران، لړمانان او پته نهٔ لګي چې څنګه څنګه زهریله ځناور پهٔ دُنیا کښې موجود دي، د دې ټولو مخه که زمونږ د اوسیدو ځایونو ته شي نو سوچ وکړئ چې ژوند به څومره ګران شي، اللّٰه پاک دا ټول زمونږ د ټولو د کورونو نه لرې ساتلي دي، دا څومره لوئي اِحسان دے، څومره عظیم نعمت دے- د دې کور هم مونږ ته شُکر ادا کول پکار دي- هغه به څنګه ادا کوو--؟ پهٔ کورونو کښې د نیکو والا ماحول جوړولو سره - د حضرت عبد اللّٰه بن عمر رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُما نه روایت دے، رسولِ ذِیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: اِجْعَلُوْا فِی بُیُوْتِکُمْ مِنْ صَلَاتِکُمْ، وَلَا تَتَّخِذُوْهَا قُبُوْرًا یعنې څینې نـمونځونه پهٔ کورونو کښې هم کوئ! کورونه هدیرې مهٔ جوړوئ--!! (1)

1 ...بخاری، کتاب الصلاۃ، باب کراہیۃ الصلاۃ فی المقابر، صفحه:179، حدیث:432۔

معلومه شوه چې که کور د دُنيا د خوشحالو نه ډک وي، د مال او دولت هيڅ کمے نۀ وي، پۀ رنګانو ښائسته وي، ډير عالي شان وي، که هلته نـمونځ نۀ کيږي نو هغه هديره بلکې د هغې نه هم زيات شاړ دے- ځکه پۀ کورونو کښې د نـمونځونو ماحول جوړ کړئ، د کورونو زنانۀ ته پۀ نرمۍ سره، پۀ مينه محبت سره ترغيب ورکړئ، هغوئي نـمونځ ګزاره جوړې کړئ، پخپله هم پۀ کورونو کښې نفلونه وغيره کوئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! چې که پۀ کورونو کښې د نـمونځونو ماحول جوړ شو نو وګنئ چې د دِين ستن پۀ کور کښې لګيدلې ده- [1] اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! تر څو پورې چې پۀ کورونو کښې د نـمونځونو ماحول وي، پۀ هغه کور کښې به دِين قائِم وي-

## د کور عزت وکړئ!

خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: اَكْرِمُوْا بُيُوْتَكُمْ بِبَعْضِ صَلَاتِكُمْ يعنې د بعضې نـمونځونو پۀ ذريعه د خپل کورونو عزت زيات کړئ--!! [2] معلومه شوه چې د نـمونځونو ماحول جوړ کړې نو پۀ دې سره به د کور عزت زياتيږي، خلق به هغه کور ته د عزت پۀ نظر ګوري، واقعي چې هم داسې ده، د دې که چرې تجربه کول غواړئ نو ستاسو پۀ محله کښې ستاسو د اِمام صاحِب د کور څومره عزت دے، پۀ دې باندې غور وکړئ! عام طور خلق د اِمام صاحب کور ته د عزت پۀ نظر ګوري، د خلقو ذِهن جوړ وي چې پۀ دې کور کښې نيکۍ وي، چې ماشوم بيمار شي نو خلق يې د دمولو د پاره اِمام صاحب له بوځي، که پۀ کور کښې پريشاني راشي نو د اِمام صاحب خوا له ځان رسوي، پۀ دې کښې څۀ راز دے؟ د اِمام صاحب پۀ کور کښې د نـمونځونو ماحول وي، پۀ معاشره کښې د هغه د کور عزت وي -

---

1... نوادر الاصول، الاصل التاسع والثلاثون والمائتان، فی خصائص النبی ...الخ، صفحه:152۔

2... مصنف عبد الرزاق، کتاب الصلاة، باب اتخاذ الرجل فی ...الخ، صفحه:299، حديث:1536۔

## پهٔ کور کښې به کوم نـمونځونه کوې---؟

د **بُخاري شريف** حديث دے، فرمائي: فَاِنَّ خَيْرَصَلَاةِ الْمَرْءِ فِى بَيْتِهِ اِلَّا الصَّلَاةَ الْمَكْتُوْبَةَ بے شکه د اِنسان بهترين نـمونځ هغه دے، کوم چې پهٔ کور کښې وکړے شي خو فرض نـمونځ [نهٔ]- (1) معلومه شوه چې فرض نـمونځ چې کوم دے، دا خو مونږ نارينۀ ته هُم پهٔ جومات کښې د جَمعې سره ادا کول دي، دا واجِب دي- (2) دغه شان د احتياط طريقه دا ده چې سُنَّت رکعتونه هم پهٔ جومات کښې ادا کړے شي- باقي چې کوم نفلونه دي، مثلاً ❁ تهجد ❁ اوّابين ❁ او نور د شپې او د ورځې نفلونه وغيره دا دې پهٔ کور کښې وکړے شي، اِنْ شَآءَاللهُ الْكَرِيم! پهٔ کور کښې به د نـمونځونو ماحول جوړ شي-

## پهٔ کورونو کښې د اللّٰه ذِکر کوئ!

**د ابو داؤد شريف روايت دے:** يو ځل خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بنو اَشهَل قبيلې ته تشريف يوړلو، هلته د ماښام نـمونځ د جَمعې سره ادا کړے شو، د نـمونځ نه پس خلق هم هلته کيناستل او تسبيح يې شروع کړه- خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: هٰذِهٖ صَلَاةُ الْبُيُوْتِ يعني دا تسبيح د کور نـمونځ دے- (3) يعني دوئي له پکار دي چې تسبيح وغيره کور ته لاړ شي او هلته يې لولي-

معلومه شوه چې د ذِکر او اَذکارو هم ماحول جوړول پکار دي:

**پهٔ يو حديثِ پاک کښې دي:**

مَثَلُ الْبَيْتِ الَّذِىْ يُذْكَرُ اللهُ فِيْهِ وَالْبَيْتِ الَّذِىْ لَايُذْكَرُ اللهُ فِيْهِ مَثَلُ الْحَيِّ وَالْمَيِّتِ

**ترجمه:** هغه کورونه پهٔ کومو کښې چې د اللّٰه پاک ذِکر کيږي او هغه کورونه پهٔ کومو

---

1...بخاری، کتاب الادب، باب مایجوز من الغضب...الخ، صفحه:1518، حديث:6113۔

2...فتاویٰ رضويه، جلد:7، صفحه:194۔

3...ابو داؤد، کتاب الصلاۃ، باب رکعتی المغرب...الخ، صفحه:213، حديث:1300۔

کښې چې د الله پاک ذِکر نهٔ کیږي، د هغې مثال د ژوندي او د مړي پهٔ شان دے۔ [1] یعنې چرته چې ذِکر کیږي، هغه کور ژوندے دے، چرته چې ذِکر نهٔ کیږي، هغه کور مړ دے۔ ځکه پهٔ کور کښې د ذِکرُ الله ماحول هم جوړول پکار دي۔ چې څنګه هم اساني وي، پهٔ کور کښې د څهٔ نا څهٔ ذِکر کولو عادت جوړول پکار دي، یو صورت دا هم کیدے شي چې پهٔ هفته کښې یوه ورځ مقرره کړے شي، مثلاً ۞ د جُمعې پهٔ ورځ د جُمعې د نـمونځ نه پس یا د مازیګر د نـمونځ نه یا د ماښام د نـمونځ نه پس صرف هم د خپل کور خلق د شرعي پردې د خیال ساتلو سره یو ځائے کښیني او مختصر شان د ذِکر او د دُرود محفل جوړ کړي، پهٔ هغې کښې تِلاوت هم کیدے شي، ټول یو ځائے کښیني او تِلاوت کوي، د الله پاک د پاکو نومونو ذِکر وي، دُرُودِ پاک لوستلے کیږي، بیا دُعا کیږي۔ ۞ دغه شان دې د یولسمې شریفې انتظام وکړے شي، پهٔ هره میاشت کښې دې د یولسم شریف پهٔ موقع باندې پهٔ کور کښې مختصر شان محفل جوړ کړے شي، د کور ټول خلق رایوځائے شي، ذِکر او اَذکار، درودِ پاک دې لوستلے کیږي، تِلاوت دې کیږي، د دې ټولو ثواب دې غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته ډالۍ کړے شي، ۞ دغه شان د نورو صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنْهُم، اولیائے کرامو او بزرګانِ دِین رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم ورځې دې هم پهٔ کورونو کښې وکړے شي۔ اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم! پهٔ کورونو کښې به د روحانیت والا ماحول جوړ شي۔

## د کورني ژوند یو څو سُنَّت او آداب

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! چې زمونږه د کورونو ماحول صحیح شي، پهٔ کور کښې امن وي، سکون وي، قرار وي، کور ته د رسیدو سره د دماغو خرابیدو پهٔ ځائے ستوماني ختمه شي، دې د پاره پهٔ کور کښې د اوسیدو پهٔ باره کښې چې کوم آداب او سُنَّت د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سیرت مبارک نه مونږ ته د زده کولو

---

1...مسلم، کتاب صلاة المسافرین وقصرہا، باب استحباب صلاة النافلة...الخ، صفحه:282، حدیث:779۔

د پاره میلاؤیږي، د هغې د اختیارولو نیت وکړئ! بے شکه هم پهٔ سُنَّتو کښې عظمت دے، زمونږه ترقي هم پهٔ سُنَّتو پورې تړلې شوې ده- راځئ چې د کورني ژوند پهٔ باره کښې یو څو آداب او سُنَّت ولولو:

## کور ته پهٔ تللو راتللو کښې سلام کوئ!

**پهٔ حدیثِ پاک کښې دي:** کله چې تاسو کور ته راځئ نو کور والؤ ته سلام کوئ او چې ځئ نو سلام کوئ او ځئ-[(1)]

د زده کولو خبره ده، دلته چې کوم مذهبي ذِهن لرونکي خلق وي، هغوئي هم پهٔ دې لیدلے کیږي چې کور ته د تللو پهٔ وخت خو سلام کوي خو د کور نه د وتلو پهٔ وخت سلام نهٔ کوي، یاد ساتئ چې لکه څنګه چې کور ته د داخلیدو پهٔ وخت سلام کول وي، هم داسې د کور نه د وتلو پهٔ وخت هم سلام کول دي-

## مور بې بي ته به یې سلام کولو

مشهور صحابئ رسول دے: حضرت ابو هریره رَضِیَ اللہُ عَنْہُ- د هغوئي معمول مبارک وو چې کله به کور ته داخلیدو یا چې کله به د کور نه بهر تللو نو د دروازې سره به ودریدلو او وئیل به یې: مور جانې--!! اَلسَّلَامُ عَلَيْكِ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ- د هغوئي مور جانې به وئیل: څویه--!! وَعَلَيْكَ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ- بیا به هغوئي وئیل: رَحِمَكِ اللهُ كَمَا رَبَّيْتِنِى صَغِيرًا مور جانې! اللّٰه پاک دې پهٔ تاسو باندې رحم وکړي، تاسو پهٔ ماشومتوب کښې زما ښه پالنه وکړه- مور جانې به یې فرمائیل: رَحِمَكَ اللهُ كَمَا بَرَرْتَنِى كَبِيرًا اللّٰه پاک دې پهٔ تا باندې هم رحم وکړي، تا پهٔ بوډا توب کښې زما سره ښهٔ سلوک وکړو-[(2)]

خومره ښکلے انداز دے- کاش چې مونږ هم پهٔ دې انداز اختیارولو کښې کامیاب شو-

---

1...شعب الایمان، باب فی مقاربة ...الخ، فصل فی السلام ...الخ، جلد:6، صفحه:448، حدیث:8845۔

2...الادب المفرد، باب جزاء الوالدین، صفحه:17، حدیث:14۔

## د اللّٰه پاک نوم واخلئ!

**پهٔ حديث شريف کښې دي:** کله چې اِنسان کور ته د داخليدو پهٔ وخت او د خوراک پهٔ وخت د اللّٰه پاک ذِکر کوي نو شيطان [ځان ته] وائي: نن دلته نهٔ ستا شپه تيريدے شي، نهٔ تا ته خوراک ميلاوَيدے شي- کله چې اِنسان پهٔ کور کښې د اللّٰه پاک د نوم اخستو نه بغير داخل شي نو شيطان وائي: **نن شپه به مې دلته تيريږي**- بيا چې کله د خوراک پهٔ وخت د اللّٰه پاک نوم وانخلي نو هغه [ځان ته] وائي: **تا ته ځائے هم ميلاو شو او خوراک هم ميلاو شو**-[1]

معلومه شوه چې کور ته د داخليدو پهٔ وخت د اللّٰه پاک نوم هم اخستل پکار دي، مثلاً کور ته د داخليدو پهٔ وخت بِسمِ الله ولولئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! د شيطان نه به پهٔ حفاظت کښې يئ-

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الأُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ليکلي دي: بعضې بزرګان ليدلے شوي دي چې د ورځې پهٔ شروع کښې کله چې به پهٔ وړومبي ځل کور ته داخليدل نو بِسمِ الله او سُورۂ اِخلاص به يې لوستلو، پهٔ دې سره پهٔ کور کښې اتفاق هم وي او پهٔ رزق کښې هم برکت پيدا کيږي-

## د ټولو نه وړومبے به يې مِسواک کولو

د مسلمانانو د خوږې مور جاني حضرت عائِشه صِدِّيقه طيبه طاهِره رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا نه پوښتنه وکړے شوه: خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې به کله کور ته تشريف راوړلو نو د ټولو نه وړومبے کار به يې څهٔ کولو؟ اوئې فرمائيل: كَانَ إِذَا دَخَلَ بَيْتَهُ بَدَأَ بِالسِّوَاكِ يعنې نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د کور د معاملاتو شروع د مِسواک نه کوله-[2]

---

1...مسلم، کتاب الاشربة، باب آداب الطعام...الخ، صفحه:803، حديث:2018-

2...مسلم، کتاب الطهارة، باب السواک، صفحه:114، حديث:253-

سُبْحٰنَ الله! معلومه شوه چې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مِسواک ډير خوښ وو، اخري نبي، رسولِ هاشمي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به چې کله د شپې ارام فرمائيلو نو د بالښت د لاندې به يې مِسواک کيښودلو، د شپې چې به کله د عبادت د پاره راپاڅيدو نو وړومبے به يې مِسواک کولو- اَلْحَمْدُلِلّٰه! مِسواک ډير ښکلے سُنَّت دے- افسوس چې اوس په دې سُنَّت باندې عمل نۀ کيږي- اَلْحَمْدُلِلّٰه! دعوتِ اِسلامي د دې سُنَّت په ژوندي ساتلو هم زور راوړے دے او زور راوړي- تاسو هم د دعوتِ اِسلامي ملاتړ وکړئ! د مِسواک سُنَّت ژوندے کړئ! دا به څنګه کيږي---؟ کم از کم پخپله د مِسواک پوخ عادت جوړ کړئ! که کيدے شي نو په قميص باندې مخې ته د سينې د پاسه د مسواک د پاره بيل جيب جوړ کړئ او **د سنّتو ادا کولو دا آله** هر وخت سينې سره د لګولو عادت جوړ کړئ! د دې سره سره که کيدے شي نو خپلو پيژندګلو، خبره منونکو خلقو ته هم د دې ترغيب ورکړئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! ډير برکتونه به مو نصيب شي-

د اميرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد اِلياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه رساله ده: **مسواک شريف کے فضائل**- که دا ولولئ نو ډير خوند به ترينه واخلئ، اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د مسواک کولو ذِهن به مو جوړ شي-

## د کورني ژوند يو څو آداب

په کور کښې دِيني او اِسلامي ماحول جوړول دي، دې د پاره يو څو آداب عرض کووم: (1): مور بي بي يا والِد صاحب چې په راتللو ووينئ نو په ادب سره ودريږئ (2): په ورځ کښې کم از کم يو ځل د والِد صاحب لاسونه او د مور بي بي ښپې ښکلوئ! (3): د مور او پلار په مخکښې اواز ورو ساتئ، د هغوئي په سترګو کښې سترګې مۀ اچوئ، په ټيټو سترګو ورسره خبرې کوئ (4): د هغوئي سپارلے شوے هر يو کار کوم چې د شريعت خلاف نۀ وي فوراً يې کوئ (5): سنجيدګي اِختيار کړئ- په کور کښې د سپکو خبرو،

ټوقو ټقالو، ملنډو، پهٔ وړه وړه خبره باندې د غصه کېدو، پهٔ خوراک کښې د عيب لټولو، د کشرانو ورونړو خوئيندو د رټلو، وهلو، د کور مشرانو ته د نيغيدو، بحثونو کولو که ستاسو عادتونه وي نو خپله رويه مکمل بدله کړئ، د هر يو نه معافي وغواړئ (6): پهٔ کور او پهٔ هر ځائے کښې چې تاسو سنجيده شئ نو اِنْ شَآءَاللهُ الْکَرِيم! پهٔ کور کښې دننه (او بهر) به هم ضرور د دې برکتونه ظاهريږي (7): مور بلکې که کور وداني هم وي يا د کور د يوې ورځې ماشوم هم وي پهٔ "تاسو" سره يې رابلئ (8): د خپلې محلې پهٔ جومات کښې د ماسخوتن د نـمونځ د جَمعې کولو نه پس پهٔ دوو ګينټو کښې دننه دننه اودهٔ شئ (9): د کور خلق که چرې پهٔ نـمونځ کښې ناراسته وي، د بے پردګئ، فلمونو، ډرامو او د سندرو سازونو سلسله وي او تاسو که چرې مشران نهٔ يئ، دا غالب ګمان دے چې ستاسو به نهٔ اوريدلے کيږي نو بيا بيا د رټلو پهٔ ځائے، ټول پهٔ نرمئ سره پوهه کړئ! پهٔ کور کښې مَدَني چينل ولګوئ! اِنْ شَآءَاللهُ الْکَرِيم! پهٔ کور کښې به دِيني ماحول جوړ شي (10): پهٔ کور کښې که هر څومره هم رَټل بلکې وهل هم وخورئ نو صبر، صبر او صبر کوئ- که تاسو خُله وهئ نو د دِيني ماحول جوړيدو اُميد نشته بلکې نوره خرابي پيدا کيدے شي چې بے ځايه د سختئ کولو سره بعضې وخت شيطان خلق ضديان کوي (11): د خپل کور والؤ د دُنيا او د اخرت ښهٔ کولو د پاره د زړهٔ د اِخلاصه دُعا هم کوئ چې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: اَلدُّعَاءُ سِلَاحُ الْمُؤْمِنِ يعني دُعا د مؤمِن وسله ده-[1] (12): د مسائلُ القُرآن پهٔ صفحه 290 باندې دي: د هر نـمونځ نه پس دا دُعا پهٔ اوّل او پهٔ اخِره کښې دُرود شريف يو ځل ولولئ، اِنْ شَآءَاللهُ الْکَرِيم! بال بچ به مو د سُنَّتو پابند جوړ شي او پهٔ کور کښې به مَدَني ماحول پيدا شي- (دُعا دا ده:)

(اَللّٰهُمَّ) رَبَّنَا هَبۡ لَنَا مِنۡ اَزۡوَاجِنَا وَذُرِّيّٰتِنَا قُرَّةَ اَعۡيُنٍ وَّاجۡعَلۡنَا لِلۡمُتَّقِيۡنَ اِمَامًا (پاره:19، سورهٔ الفرقان:74)

1 ...مسند ابي يعلى، صفحه:153، حديث:439-

د مكـتبة الـمدينه نه يوه وړه شان رساله ميلاوؤيږي: 72 نيک اَعمال، دا حاصله کړئ! پخپله هم په دې باندې عمل وکړئ! او په کور کښې چې هم تر څو پورې ممکن وي، دا نافذه کړئ! اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْكَرِيم! د كور ماحول به مو ډير ښهٔ شي۔
په پابندئ سره هره مياشت کم از کم درې ورځې په قافله کښې د عاشقانِ رسول سره د سُنَّتو په اِجتماع کښې سفر کوئ او د کور والؤ د پاره هم دُعا کوئ۔ په قافِله کښې د سفر په بَرَکت سره هم په کورونو کښې د دِيني ماحول جوړيدو مَدَني سپرلي واقعې اوريدلے کيږي۔

## د كور دَرس اهتمام وكړئ!

د کور د ماحول ښهٔ کولو، د اِسلامي ماحول جوړولو يوه بهترينه ذريعه دا ده چې په کور کښې د فيضانِ سُنَّت دَرس ورکولو عادت جوړ کړے شي!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د آګوله (مها راشټر، هندوستان) د يو اِسلامي ورور بيان دے چې د خرابو خلقو سره د تعلقاتو په وجه زمونږه کورنئ د بد عملئ سره سره په بده عقيده کښې اخته شوي وه، په دغه وخت کښې زما 17 کلن کشر ورور کوم چې د دعوتِ اِسلامي د دِيني ماحول سره تړون لرلو، هغهٔ په کور کښې ټول راجمع کړل او د فيضانِ سُنَّت دَرس به يې ورکولو۔ زهٔ به په هغې کښې نهٔ کيناستم، يوه ورځ زهٔ ورنزدې شوم او کيناستم چې واورم چې په دَرس کښې څهٔ وائي، چې وا مې وريدو نو ډير ښهٔ راباندې ولګيږو، لهذا ما هم روزانه په كور دَرس كښې شركت كول شروع كړه۔ په ورو ورو زما د زړهٔ تور والے لرې شو، اَلْحَمْدُلِلّٰه! په كور كښې د كيدونكي دغه دَرس په بركت زمونږ په كور كښې دِيني ماحول جوړ شو او د الله پاک په فضل سره د بدې عقيدې نه هم نجات حاصل شو۔ [1]

بُری صحبتوں سے کَنارہ کَشی کر | اور اچھوں کے پاس آ کے پا دِینی ماحول

---

1 ...دعوتِ اسلامی کی مدنی بہاریں (حصہ اول)، صفحہ:99۔

تمہیں لطف آ جائیگا زندگی کا | قریب آ کے دیکھو ذرا دینی ماحول

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

خورو او محترمو اِسلامي ورونو! تاسو هم پهٔ کور کښې د دَرس ورکولو عادت جوړ کړئ!

اَلْحَمْدُلِلّٰه! دَرس ورکول د ذيلي حلقې پهٔ 12 دِيني کارونو کښې يو کار دے-

خورو او محترمو اِسلامي ورونو! اللّٰه پاک مونږ مسلمانانو ته حکم کړے دے:

قُوْٓا اَنْفُسَكُمْ وَاَهْلِيْكُمْ نَارًا (پاره:28، سورهٔ تحريم:6) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: خپل ځانونه او د خپل کور کسان د هغه وور نه بچ کړئ!

يعني اے مسلمانانو! پخپله هم دِيني خبرې زده کړئ او خپل کور والؤ ته يې هم وښايئ! د پاره د دې چې د دوزخ نه بچ شئ---!! (1)

نن سبا پهٔ هر کور کښې جنګ، جګړې، پريشانئ عامې دي، د دې بهترين حل دا دے چې پهٔ کور کښې دَرس ورکړئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! ❀ پهٔ کور کښې به دِيني ماحول جوړ شي ❀ کور والا چې دِيني خبرې زده کړي نو د نيک اعمالو ذِهن به جوړيږي ❀ کشران به پهٔ اَدب او مشران به شفيق جوړ شي ❀ غيبت، چغلي او د دې پهٔ شان د ډيرو ګناهونو نه د بچ کيدو سوچ به ميلاؤ شي ❀ عشقِ رسول، د اخرت فِکر او د اللّٰه پاک نه ويره به مو نصيب شي ❀ د عقيدو او د اعمالو اِصلاح به مو وشي او ❀ اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! پهٔ کور کښې به مو سکون وي ❀ د اللّٰه پاک رحمتونه به پرې هم نازليږي ❀ او که اللّٰه پاک وغوښتل نو د ټول کور به مو خير وي-

واقعه: يو اِسلامي ورور بيان کوي: چې د هغوئي پهٔ کور کښې بد عملئ او بدې عقيدې جړې ښخې کړې وې، بيا هغوئي پهٔ کور کښې دَرس ورکول شروع کړو، اَلْحَمْدُلِلّٰه! د 7 منټه دَرس پهٔ اِستقامت سره د ورکولو برکت دا شو چې ټول کور والا نيک نمونځ ګزاره او

1 ...تفسير قشيرى، پاره:28، سورهٔ تحريم، تحت الآية:6، جلد:3، صفحه:334-

عاشقانِ رسول جوړ شول۔

تاسو هم پهٔ خپل کور کښې دَرس ورکوئ! هيڅ ګرانه نهٔ ده، د شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه کتابونه ډير اسان وي، يو کتاب مثلاً **فيضانِ سُنَّت** واخلئ! که غواړئ نو د دعوتِ اِسلامي د ويب سائټ www.dawateislami.net نه يې ډاؤن لوډ کړئ! که غواړئ نو پهٔ موبائل کښې يې وساتئ! روزانه صِرف د 7 منټو د پاره چې څهٔ ليکلي وي، هغه هغوئي ته بيانوئ! پهٔ سنجيدګئ او اِستقامت سره چې دَرس ورکوئ نو اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْكَرِيْم! ښهٔ ډير سپرلي به يې ووينئ۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## القرآن الکريم موبائل ايپلي کيشن

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** نن صبا د ټيکنالوجئ دور دے۔ اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د عاشقانِ رسول ديني تنظيم **دعوتِ اِسلامي** د جديد ټيکنالوجئ پهٔ ذريعه هم د عِلمِ دِين عام کولو کوشش کوي۔ د دعوتِ اِسلامي د ***I.T*** ډيپارټمنټ له خوا يو موبائل ايپلي کيشن جاري کړے شوے دے، د کوم نوم چې : ***Quran Al kareem***(القرآن الکريم ) دے۔ پهٔ دې ايپلي کيشن کښې ✿ د پوره قرآنِ پاک لوستلو ✿ او د مختلفو قاريانو پهٔ اوازونو کښې د قرآنِ پاک اوريدلو سهولت موجود دے ✿ دې سره سره يو خاص سورت يا آيت ***Bookmark*** کيدے هم شي يعني بيا بيا لوستونکے سورت يا آيت د ***Bookmark*** کيدو سره پهٔ اسانئ سره لوستلے کيدے شي۔

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! اوسه پورې تقريباً د 10 لاکو نه زياتو ګسانو دا ايپلي کيشن ډاؤن لوډ کړے دے۔ تاسو هم دا ايپلي کيشن پهٔ خپل موبائل کښې انسټال کړئ، پخپله ترينه هم فائده واخلئ او نورو ته هم د دې ترغيب ورکړئ۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

# یو څو ضروري اِعلانات

❁ د هر خالي پهٔ ورځ امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه پهٔ مَدَني چینل باندې لائیو **هفته واره مَدَني مذاکره** کوي، د راتلونکې خالي پهٔ ورځ به هم د ماسخوتن د نمونځ نه پس پهٔ مَدَني چینل پاؤ کم 9 بجې اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم! هفته واره مَدَني مذاکره کیږي، د **ربیع الآخر شریف** راتګ هم نزدې دے، اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم! د 23 ستمبر د نهې د ورځې نه تر یوولسمې شپې پورې به روزانه د مدني مذاکرو سلسله وي، پهٔ کومو کښې چې به شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت مولانا الیاس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د سوالونو جوابونه هم ورکوي- ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول پهٔ دې مَدَني مذاکره کښې ضرور هم شرکت وکړئ او نورو له هم دعوت ورکړئ ❁ شیخ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه هره هفته د یوې دِیني رسالې د لوستلو اعلان کوي، پهٔ راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به **د نمر او د سپوږمۍ تندر نیول** رسالې اعلان کولے شي- دا رساله ضرور هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغیب ورکړئ او څوک چې سوشل میډیا مثلاً واټس ایپ وغیره استعمالوي هغوئ دې د اللّٰه پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شیئر ***(Share)*** کړي! ❁ د مکتبة المدینه له خوا وړاندې کولے شي د خپلې موضوع پهٔ لحاظ سره ډېر اهم او معلوماتي کتاب: **وقف کے شرعی مسائل**- پهٔ کوم کښې چې به تاسو زده کړئ چې ❁ وقف څهٔ ته وئیلے شي ❁ کوم یو څیز وقف کول افضل دي ❁ کوم یو څیز وقف کیدے شي او کوم نهٔ ❁ او د وقف پهٔ باره کښې نور شرعي حکمونه- دا کتاب د مکتبة المدینه د یوې څانګې نه پهٔ **350 روپی** پهٔ بیعه حاصل کړئ، ضرور یې هم ولولئ او نورو له هم د دې دعوت ورکړئ!

## محفلِ بغداد

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیْم! 21 ستمبر 2025 د اتوار په ورځ، د شپې تقریباً 9 بجې به په فیضانِ مدینه کراچۍ کښې محفلِ بغداد کیږي، دا مبارک محفل به په مدني چینل باندې لائیو ښودلے شي- امیرِ اهلِ سنت مولانا محمد الیاس عطار قادري دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه به هم په دې مبارک محفل کښې تشریف لري- ټول عاشقانِ غوثِ اعظم په دې مبارک محفل کښې شرکت وکړئ او نورو ته هم د دې دعوت ورکړئ-

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د بیان په اخره کښې د سُنّتو فضیلت او د ژوند د یو څو ادابو بیانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِی فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت وکړو هغهٔ زما سره محبّت وکړو او چا چې زما سره محبّت وکړو هغهٔ به په جنّت کښې زما سره وي-[1]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د وعدې پابندي سُنَّت ده

د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم 2 فرامین مبارک دي: (1): څوک چې وعده نهٔ پوره کوي، د هغه هیڅ ایمان نشته-[2] (2): کوم مسلمان چې د خپل ورور سره وعده خلافي وکړي په هغهٔ باندې د الله پاک او د فرښتو او د ټولو اِنسانانو لعنت دے-[3]

اے د خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! وعده پوره کول سُنَّتِ مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

---

1...تاریخ دمشق، جلد:9، صفحه:343-

2...مصنف اِبْنِ اَبِي شیبه، کتاب: الایمان، جلد:7 صفحه:223-

3...بخاری، کتاب: جِزْیه، صفحه:815، حدیث:3179-

بلکې سُنَّتِ انبیا دي ❀ زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به پهٔ خپله وعده کلک ولاړ وو او ❀ وعده ماتول به یې نهٔ خوښول ❀ د نبوت د اعلان نه مخکښې یو ځل یو کَس نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته عرض وکړو چې: تاسو ودریږئ! زهٔ دا دے اوس راځم، هٰغه کَس لاړو خو واپس راتلل ترینه هیر شول، 3 ورځې پس هغه ته بیا وریاد شول، چې کله هغهٔ هٰغه ځائے ته راورسیدو نو حیران پاتې شو چې خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د 3 ورځو تیریدو باوجود هم پهٔ هغه ځائے کښې تشریف فرما وو او مَاشَآءَالله! شفقت او رَحمت او ښهٔ اخلاقو ته یې وګورئ! چې رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هٰغه کَس اونهٔ رټلو او نهٔ پهٔ جلال کښې راغلو، بس دومره یې وفرمائیل: اے سړیه! تا زهٔ پهٔ مشقت کښې واچولم- (1) الله پاک دې مونږ هم پهٔ سُنّتِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې عمل کوونکي او وعده پوره کوونکي جوړ کړي-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم-

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبة المدینه د **بهارِ شریعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شیخ طریقت، امیر اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه د 91 صفحو رساله **550 سنتیں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو یوه بهترینه ذریعه د دعوتِ اسلامي پهٔ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے-

سنتیں سیکھنے تین دِن کے لیے | ہر مہینے چلیں، قافلے میں چلو

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم-

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

---

1 ...اَبُو داؤد، کتاب ادب، باب فی العدة، صفحه:781، حدیث:4996-

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعې [یعنې د جُمعې د شپې] دُرُود

بُزرګانِ دینو فرمائیلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (یعنې د جُمعې او زیارت مینځنۍ شپه کښې) دا دُرُود شریف په پابندۍ سره کم ازکم یو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدینه صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِیدار کوي او قَبْر کښې د داخلیدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدینه صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر ته د خپل رَحمت نه په ډکو لاسونو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِنِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِي الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

### ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

د حضرتِ سیِّدُنا انَس رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دے چې تاجدارِ مدینه صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو د كښیناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودریدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شریكه دا دُرُود اووائیو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

### ﴿3﴾ د رَحمت اویا دروازې:

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اویا دروازې بیرته كړے شي.[2] راځئ

1... افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ السادسة والخمسون، ص ۱۵۱ ملخصاً

2... القول البدیع، الباب الثانی، ص ۲۷۷

چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو:

صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

### ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشريف ثواب

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[1] راځئ چې په شريکه ئې اُووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللهِ

### ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اکبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُم حيران شول چې دا خوك ذِی مَرتبه [يعنې اوچتې مرتبې والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسې ئې لوَلي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

### ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: خوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.[3] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو:

---

1 ... افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص ۱۴۹

2 ... القول البديع، الباب الاول، ص ۱۲۵

3 ... الترغيب والترهيب، كتاب الذكر والدعاء، ۲/۳۲۹، حديث: ۳۰

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنۡزِلۡہُ الۡمَقۡعَدَ الۡمُقَرَّبَ عِنۡدَكَ یَوۡمَ الۡقِیَامَةِ

## ﴾1﴿ د یو زر ورځو نیکۍ:

حضرتِ سَیِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُمَا نه رِوایت دے چې سرکارِ مدینه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتې د یو زر ورځو پورې نیکۍ لیکي.[1] راځۍ چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو:

جَزَی اللّٰہُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا ھُوَ اَھۡلُہٗ

## ﴾2﴿ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[2] راځۍ چې مونږه هُم دا دُعا په شریکه اووائیو:

لَآ اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہُ الۡحَلِیۡمُ الۡکَرِیۡمُ، سُبۡحٰنَ اللّٰہِ

رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبۡعِ وَرَبِّ الۡعَرۡشِ الۡعَظِیۡم

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

---

1 ... مجمع الزوائد، کتاب الادعیة، باب فی کیفیة الصلاة... الخ، ۱۰/۲۵۴، حدیث: ۱۷۳۰۵

2 ... تاریخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حدیث: ۴۴۱۵